AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین



مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد



نجیب پاخون


۲۰۲۶/۰۱/۰۲

# «سوله او موسکا»

## په اوسنۍ زمانه کې د بې‌ټکو شاعرۍ یوه نوې ټولګه




که د نوي کال پیل د خوښۍ، بدلون او نوښت پیغام لري، نو د پښتو ادب مینه‌والو ته یې تر ټولو ښکلې زیری د «سوله او موسکا» خپرېدل دي؛ هغه چې په پښتو معاصرادب کې د یو ځانګړي هنري نوښت په توګه درنو لوستونکو ته وړاندې شوه.

«سوله او موسکا» د ښاغلي نصرالله کاتب د بې‌ټکو شاعرۍ لومړۍ ټولګه ده، چې په بشپړه توګه د نامنقوط (بې‌ټکو) ادبي صنعت ته ځانګړې شوې ده. په دې کتاب کې ټول شعرونه په نامنقوط بڼه لیکل شوي؛ هغه صنعت چې په پښتو شاعرۍ کې ډېر کم پالل شوی، او دا ټولګه ښايي د پښتو ادبي تاریخ دویمه یا دریېمه بشپړه نامنقوطه شعري ټولګه وبلل شي.

کتاب شاوخوا ۱۴۰ مخونه لري او په ښکلي ډیزاین او لوړ چاپي کیفیت سره د سروش کتاب‌پلورنځي له لوري چاپ شوی دی.
په «سوله او موسکا» کې تر ډېره غزلې، څلوریزې او نظمونه راغلي، چې منځپانګه یې ټولنیز، ښوونیز او سوله‌ییز پیغامونه رانغاړي. شاعر هڅه کړې چې د بې‌ټکو ژبني محدودیت تر سیورې لاندې ژوره معنا، ښکلی خیال او هنري توازن وساتي.




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

پر دې ټولګه باندې د لرغوني بلخ وتلو فرهنګي څېرو، ښاغلي عطامحمد «ساهو» او استاد شهزاده «شهير»، علمي، هراړخيزې او ارزښتناکې سريزې ليکلي دي.

د کتاب له غزلو يو بيت:

**د هر کار لره مسلک د کار درګوره**
**سم مسلک لکه مامور د اهل کاره**

«سوله او موسکا» نه يوازې يوه شعري ټولګه ده، بلکې د پښتو ادب په نوښتګر بهير کې يو مهم هنري ګام هم بلل کېږي، چې د لوستونکو، څېړونکو او د نامنقوط ادب د مينهوالو د پام وړ دی.

د کتاب د ترلاسه کولو پتې:

دا شعري ټولګه په کابل کې د سروش کتابپلورنځي او همدارنګه په مزارشريف کې له بېلابېلو کتابپلورنځيو څخه ترلاسه کولای شئ.

په پای کې به له يادې ټولګې څخه د ښاغلي نصرالله کاتب د بېټکو شاعرۍ د کلام يوه بېلګه وړاندې شي:

## غزل

د هر کس لره عطا ده
دا له کوره د مولا ده
د کامل هوکړه اصلاح ده
د سم مراد لره دوا ده
د هر اصل اصطلاح ده
د مولا لره دعا ده
سمه لاره کړه ماموره
سم د لاسه سره طلا ده
سلسله د سر او مال ده
لکه مال سره هوسا ده
درګاه د رحم ګوره
له مداره مداوا ده
د هر سهار طلوع د لمر ده
د عالم لره څلا ده
لکه سمسوره ولوله ده
د موسم هوسا هوا ده
د کمر د سر ګلسره
د عطاره د موسکا ده
هره لاره د مالدارو
سمسوره د صحرا ده
سمه سوله مولا راکړه
د ملک لره کلا ده

**د پښتو ژبې د ودې، بډاينې او پرمختګ په هيله!**



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ